


# آبادي اوونیزه

هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY


د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۱۳ | مسلسل نمبر: ۵۶

شنبه، د ذوالحجې ۳۰ مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال


## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستان هیواد له یوشمېر پانګوالو سره وکتل



۲ مه صفحه

## آغاز کار عملی پروژه تاپی، مزایا و موانع




۲ مه صفحه

## د افغانستان او ازبیکستان سیاسي - اقتصادي اړیکو ته کتنه




۵ مه صفحه





## سرلیکنه

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر په مشرۍ پلاوي د روان کال د چنګاښ میاشتې په ۱۲مه نېټه د افغانستان او ازبیکستان په څلور ورځني ګډ نندارتون کې د ګډون په موخه دې هیواد سفر وکړ. په دې سفر کې د صنعت او سوداګرۍ وزیر او مل پلاوي يې د ازبیکستان له چارواکو او سوداګرو سره وکتل. په دې لیدنو کتنو کې د سوداګرۍ، ترانزیټ، په افغانستان کې د ازبیک پانګوالو له لوري پر پانګونې، د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ګډې خونې په رامنځته کولو خبرې وشوې. په دغه نندارتون کې چې ۲۵۰ افغان شرکتونو ګډون کړی، د نندارتون په پای کې د افغان او ازبیک سوداګرو ترمنځ په بېلا بېلو برخو کې ځینې تړونونه هم لاسلیک شول.

ازبیکستان او افغانستان تر منځ اړیکې د شوروي له ړنګېدو وروسته پیل شوې او لا هم دوام لري. د افغانستان او ازبیکستان هیوادونو ترمنځ د سیاسي اړیکو ترڅنګ اقتصادي او سوداګریزې اړیکې هم قوي دي. د تېر لمریز کال په جریان کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه شاوخوا ۲۸۱ میلیون ډالرو ته رسېده. خو دې دواړو هیوادونو پر دې بسنه نه ده کړې او غواړي خپلو دغه ډول اړیکو ته لا پراختیا ورکړي. د ازبیکستان په پلازمېنه تاشکند کې د دواړو هیوادونو د ګډ نندارتون جوړول او په هغو کې افغاني محصولاتو او تولیدات نندارې ته وړاندې کول د اقتصادي اړیکو د پراختیا ښه بېلګه ده.

نندارتونونه د محصولاتو د معرفي کېدو ترڅنګ د سوداګرۍ د غوړېدو او ودې له پاره تر ټولو غوره لار ده او له دې لارې هیوادونه خپل محصولات خلکو ته وړاندې او پانګوال هڅوي چې په دې برخه کې پانګونه وکړي. د محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې پانګونه بیا اقتصادي ودې ته لار پرانیزي او پر مټ يې هیواد د پرمختګ په لور حرکت پیلوي. ددې په خوا کې چې په نندارتونونو کې هر هیواد خپل محصولات او تولیدات نندارې ته وړاندې ترڅنګ يې د افغان او یادو هیوادونو د سوداګرو ترمنځ د میلیونونو ډالرو په ارزښت سوداګریز تړونونه هم لاسلیک کېږي.

په ازبیکستان کې د جوړ شوي نندارتون پر مهال هم دغه ډول تړونونه لاسلیک شوي چې ارزښت يې ۱۰۰میلیونو ډالرو ته رسیږي. ددې په خوا کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د ګډې خونې پر جوړېدو هم خبرې شوې دي. دغه راز ازبیک پانګوال هڅول شوي دي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. د ترانزیټ په برخه کې هم بحثونه شوي دي. ازبیکستان او افغانستان یو د بل له پاره غوره ترانزیټي لارې دي. افغانستان کولای شي د ازبیکستان له لارې خپل صادرات د مرکزي اسیا په ګډون، روسیې او چین ته ورسوي او ازبیکستان بیا د افغانستان له خاورې څخه په ګټې اخیستو کولای شي خپل محصولات او تولیدات تر سویلي آسیا پورې ورسوي. دا ټول هغه څه دي چې کولای شي، له یوه لوري په بهر کې د افغاني محصولاتو او تولیداتو له پاره بازار پیدا کړي او له بل لوري افغانستان د نړۍ له یو شمیر هیوادونو سره ونښلوي. په دې سره به د افغانستان سوداګرۍ پراختیا پیدا کړي او اقتصادي وده به يې ګړندۍ شي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی


# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ازبیکستان هېواد له یوشمېر پانګوالو سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د چنګاښ میاشتې په ۱۱مه نېټه په خپل کاري دفتر کې له یوشمېر ازبیکستاني پانګوالو سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال ازبیکستاني پانګوالو په افغانستان کې د ډېرو سکرو د استخراج او پروسس، له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید، د نفتو د معیاري چاڼخونې جوړولو، د سیمنټو د تولید فابریکې جوړولو، د مالګې کانونو د استخراج او معیاري پخې مالګې د تولید، د معیاري نساجي فابریکې رامنځته کولو او همدا راز د برېښنايي حکومتولی په برخو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې.

همدارنګه ازبیکستاني پانګوال زیاته کړه، چې افغانستان د پانګونې لپاره یو مناسب هېواد بدل شوی او دوی له بشپړ چمتووالي سره راغلي، څو په یادو برخو کې پانګونه ترسره او خپلې تجربې له افغانانو سره شریکې کړي.

وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان په مختلفو سکتورونو کې پانګونې ته د ازبیکستاني پانګوالو له لېوالتیا څخه مننه وکړه او دوی ته یې ډاډ ورکړ، چې وزارتونه او ادارې به په خپلو اړوندو برخو کې له دوی سره همکاري وکړي.



# آغاز کار عملی پروژه تاپی، مزایا و موانع

نویسنده: عبدالله ایمل

## مقدمه

پروژه خط لوله گاز تاپی (TAPI) که گاز طبیعی را از ترکمنستان به افغانستان، پاکستان و هند منتقل می کند با تطبیق این پروژه بزرگ افغانستان به دهلیز اقتصادی میان آسیای مرکزی و جنوبی تبدیل خواهد شد و یکی از پروژه های بزرگ در سطح منطقه محسوب می شود. این یکی از پروژه های بسیار سودمند برای افغانستان است.

خط لوله گاز که به طول ۱۸۱۴ کیلومتر و قطر ۵۶ اینچ خواهد بود از جنوب گالکینیش(Galkynysh) ترکمنستان آغاز و پس از طی حدود ۱۵۰ کیلومتر از خاک ترکمنستان وارد هرات افغانستان می شود. این خط لوله تقریباً ۸۳۰ کیلومتر در خاک افغانستان امتداد می یابد و با عبور از هرات، فراه، نیمروز، هلمند و قندهار به شهر کویته پاکستان می رسد و از آنجا به ملتان و پس از امتداد ۸۰۰ کیلومتر در هند به منطقه فازیلکه(Fazilka) می رسد. اولین صحبت ها در مورد این پروژه در دهه ۹۰ شروع شد و در سال ۲۰۰۸ هند رسماً بخشی از این پروژه شد. هدف اصلی این پروژه انتقال ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز از ترکمنستان به افغانستان، پاکستان و هند است. در پایان سال ۲۰۱۴ میلادی کشورهای ذیدخل در این پروژه شرکت سهامی به نام (TPCL) ایجاد نمودند که

سهمداران این شرکت، شرکت گاز ترکمنستان، تصدی افغان گاز افغانستان، شرکت خصوصی سیستم گاز پاکستان و شرکت خصوصي گیل هندوستان می باشد. مسئولیت اصلی این شرکت ساخت و مدیریت این پروژه می باشد و هزینه مجموعی آن ۹ تا ۱۰ میلیارد دالر تخمین شده است.

## مسیر پایپ لاین

این خط لوله گاز از ولایت هرات و قندهار افغانستان عبور و به شهر های کویته و ملتان پاکستان می رسد و از انجا تا روستای فازلیکه مرز پاکستان و هند امتداد می یابد. ظرفیت این خط لوله ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز طبیعی در سال است. بنابر این ۲۱۴ کیلومتر از این خط لوله در خاک ترکمنستان، ۷۳۰ کیلومتر در خاک افغانستان و ۸۲۷ کیلومتر در خاک پاکستان می گذرد.

## در آینده نزدیک کار عملی پروژه تاپی آغاز خواهد شد

کار عملی پروژه تاپی در آینده نزدیک در ولایت هرات آغاز خواهد شد. رئیس اجرائیوی شرکت تی پی سی ال TPCL محمد مراد امانوف در دیدار با محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که ترکمنستان آمادگی دارد تا با سرمایه گذاری ٦۰۰ میلیون دالر این پروژه را از هرات آغاز کند. وی افزود، بانک بین المللی اسلامی، بانک انکشافی آسیا و همچنان بانک های روسی، چینایی و برخی از بانک های عربی نیز آماده سرمایه گذاری در پروژه تاپی هستند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء وضعیت کنونی افغانستان را فرصت مناسبی برای آغاز پروژه تاپی خواند و افزود، امارت اسلامی ۹ موافقتنامه رسمی در خصوص پروژه تاپی را پس از ارزیابی قابل اجراء می داند و برای شروع پروژه مذکور آمادگی کامل دارد و آماده هر نوع همکاری در این زمینه است.

## مزایای اقتصادی پروژه تاپی برای افغانستان

۱. افغانستان به نقطه اتصال کشورهای آسیای مرکزی و آسیای جنوبی تبدیل خواهد شد؛

۲. زمینه سازی برای افتتاح دهلیز در سکتور برق؛

۳. توسعه روابط و ترانسپورت بین کشورهای منطقه؛

۴. فرصت های کاری برای هزاران نفر به صورت مستقیم و غیر مستقیم فراهم می شود؛

۵. ایجاد زیرساخت‌ها؛

٦. بیش از چهارصد میلیون دالر در سال به درآمد ملی اضافه می شود؛

۷. افغانستان در دهه اول پنجصد میلیون متر مکعب گاز، در دهه دوم یک میلیارد متر مکعب و در دهه سوم یک و نیم میلیارد متر مکعب گاز از این پروژه دریافت خواهد کرد؛

۸. از آنجایی که افغانستان یک کشور زراعتی است، می توانیم از گاز این پروژه برای تولید کود کیمیاوی استفاده نمایم؛

۹. بدون شک از مناطقی که این خط لوله عبور می کند، تجارت رونق خواهد یافت؛

۱۰. به همین ترتیب پروژه های مشابه دیگری نیز اجراء خواهد شد، به عنوان مثال پروژه های راه آهن، برق و کیبل فایبر نوری؛

۱۱. و پس از موفقیت این پروژه، سرمایه گذاران خارجی علاقمند به سرمایه گذاری در افغانستان خواهند شد.

## تاثیرات منطقه‌ای پروژه تاپی

از مزایایی اقتصادی خط لوله گاز تاپی نه تنها افغانستان بلکه تمام کشورهای منطقه برخوردار می شوند. ترکمنستان در حال حاضر ۳۵ میلیارد متر مکعب گاز به چین می فروشد، اما چین این گاز را با قیمت نازل از ترکمنستان خریداری می کند. بنابر این ترکمنستان می خواهد وابستگی خود به چین را کاهش دهد تا بتواند گاز خود را با قیمت مناسب بفروش برساند. تجارت در مناطقی که این خط لوله از آنجا عبور خواهد کرد، شگوفا خواهد شد. مغازه ها، هوتل ها و بازارها ساخته خواهند شد، بسیاری از مردم محلی برای امنیت خط لوله به کار گماشته خواهند شد و به اکثریت مردم فرصت کاری مهیا خواهد شد. متخصصان افغان فرصت یادگیری مدیریت عصری را خواهند داشت.

پاکستان نیز از این پروژه سود اقتصادی می برد. این کشور سالانه صدها میلیون دالر از هند به عنوان هزینه ترانزیت دریافت می کند. علاوه بر این، در مناطقی که این خط لوله می گذرد، اشتغال برای مردم ایجاد می شود، در کنار این پاکستان از گاز نیز بهره مند می شود.

رهبری امارت اسلامی افغانستان در تلاش است تا با تطبیق و آغاز چنین برنامه زمینه رشد و توسعه اقتصادی را فراهم کند. عملی شدن چنین پروژه های بزرگ اقتصادی از یک سو فرصت‌های کاری را فراهم می‌کند و از سوی دیگر منجر به ورود عواید اسعاری می‌شود. به این ترتیب نیازهای اسعاری کشور تا حدودی تامین می شود و به ثبات نرخ اسعار و اجرای سیاست پولی در کشور کمک می کند.

## نقش ترانزیتی افغانستان

در دوران اشغال افغانستان، همسایه‌گان و کشورهای منطقه بیشتر در مسائل سیاسی و امنیتی با یکدیگر همکاری داشتند و مشکلات موجود در مناسبات بیشتر روی همین مسایل می چرخید. اما زمانی که اشغال پایان یافت و امارت اسلامی افغانستان بر کشور تسلط کامل یافت، اکنون مسائل اقتصادی در روابط افغانستان و کشورهای همسایه اساس اقدامات استراتیژیک را تشکیل می دهد. افغانستان به تدریج در حال تبدیل شدن به یک بازیگر مهم در زمینه انرژی و توان اقتصادی در سطح منطقه است. به عنوان نمونه می توان به آغاز خط لوله گاز تاپی در آینده نزدیک، توسعه بندر چابهار، آغاز پروژه های کاسا یک هزار و پروژه های دیگر از این دست اشاره کرد. از سوی دیگر دهلیز لاجورد که افغانستان را با بنادر ترکیه و کشورهای اروپایی وصل می کند، این فرصت را نیز به افغانستان داده است که تنها به کشورهای جنوبی و بنادر و مسیرهای ترانزیتی متکی نباشد.




## سهم افغانستان در پروژه تاپی

افغانستان از طریق این پروژه سالانه حدود ۴۰۰ میلیون دالر حق ترانزیت دریافت می کند و با تکمیل پروژه تاپی ۵۰۰ میلیون متر مکعب گاز برای ده سال و یک میلیارد متر مکعب گاز برای بیست سال دریافت خواهد کرد. از طریق این پروژه زمینه فرصت کاری برای هزاران نفر فراهم می شود. ۷۳۰ کیلومتر این پروژه از ولایات هرات، نیمروز، هلمند و قندهار می گذرد. بر اساس تحقیقات و ارقام اولیه، خط لوله گاز تاپی سالانه ۳۳ میلیارد متر مکعب گاز را انتقال خواهد کرد.


## پروژه هایی که در کنار تاپی عملی خواهند شد

قرار است که در کنار پروژه تاپی، تعدادی از پروژه های کوچک و بزرگ دیگر نیز عملی شود. بخشی دیگر از این پروژه انتقال ۵۰۰ کیلووات برق از ترکمنستان به پاکستان از طریق افغانستان است. افغانستان سالانه ۱۱۰ میلیون دالر از این ترانزیت برق دریافت می کند و همچنان سه سب استیشن در هرات، فراه و قندهار ساخته خواهد شد. علاوه بر این کیبل فایبر نوری در منطقه امتداد خواهد یافت و از این طریق کشورهای همسایه را به هم متصل می کند. در کنار پروژه تاپی، پروژه دیگر انتقال خط آهن از ترکمنستان به پاکستان از طریق افغانستان است. همچنان گفته می شود که راه آهن تورغندی افغانستان با ۱۳ کیلومتر مسافت از طریق ترکمنستان با هزینه ۱۰ میلیون دالر ساخته می شود.

## نتیجه‌گیری

بیش از دو دهه می شود که در مورد آغاز و اجرای پروژه تاپی بحث های صورت می گیرد. اما به دلیل یک سری مسائل سیاسی، اقتصادی، امنیتی و اجتماعی امکان اجرای آن وجود نداشت. پایان اشغال افغانستان و درک مشترک و تلاش کشورهای منطقه به آغاز کار پروژه تاپی کمک کرده است. با تطبیق این پروژه از یک سو افغانستان به یک منبع خوب عایداتی دست خواهد یافت و از سوی دیگر می تواند بر اوضاع سیاسی و امنیتی منطقه تأثیر بگذارد و جایگاه قوی تری نسبت به گذشته به دست آورد. امارت اسلامی افغانستان اصرار دارد که در سطح منطقه، همه کشورها باید یک سیاست اقتصاد محور را بر اساس منافع متقابل انتخاب کنند. امارت اسلامی افغانستان به پروژه های اساسی اولویت و اهمیت می دهد و تحریم های اقتصادی موجود را چالش بزرگ می داند. در مقابل اجرای این گونه پروژه ها دلیل اصلی آغاز همکاری های اقتصادی به جای رقابت سیاسی در سطح منطقه تلقی می شود. امارت اسلامی افغانستان بر این عقیده است که اجرای پروژه های بزرگ اقتصادی در منطقه، کشورهای همسایه افغانستان را به این امر تشویق خواهد کرد که منافع خود را مشترک بدانند و موانع موجود برای همکاری اقتصادی را از پیش روی خود بردارند.

اهمیت اقتصادی و ترانزیتی افغانستان به نفع کشورهای همسایه و منطقه است. پروژه های اقتصادی منطقه‌ای و ارتباط منطقه‌ای وسیله برای ثبات و توسعه در منطقه است. در دنیا ثابت شده است که اشتراک منافع اقتصادی به ثبات سیاسی در منطقه کمک کرده است و امارت اسلامی افغانستان تمام تلاش خود را به کار می برد تا زمینه همکاری مشترک اقتصادی با کشورهای همسایه و منطقه را فراهم نماید.



# د افغانستان او ازبيکستان سياسي - اقتصادي اړيکو ته کتنه



ليکوال: امان‌الله حنيفي

## سريزه

ازبيکستان د افغانستان په پوله هغه شريک ګاونډی هېواد دی، چې د ښه اقتصاد، ځانګړي جغرافيوي موقعيت او تخصصي بشري قوې په درلودو سره د مرکزي اسيا يو له مهمو او نفوذ لرونکو هېوادونو شمېرل کېږي. دغه هېواد له افغانستان سره ۱۳۷ کيلومتره ګډه پوله لري، چې د آمو سيند په واسطه دواړه هېوادونه يو له بل څخه جدا شوي دي.

ازبيکستان د شوروي اتحاد پر مهال د نورو جمهوريتونو په پرتله په ښه موقف کې و او له شوروي اتحاد څخه د ازادۍ تر اخيستلو وروسته يې هم خپل دا موقف همداسې پياوړی وساته. دغه هېواد په کور دننه د خپل اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر کار وکړ او پر هغه سربېره يې په سيمه کې د يو ښه سياست په غوره کولو سره خپلې او د نورو هېوادونو ګټې ساتلې دي.

افغانستان د دغه هېواد په بهرني سياست کې يو مهم ګاونډی هېواد پاتې شوی، چې د اسلامي امارت په راتګ او په افغانستان کې له لسيزو جګړو وروسته د سرتاسري امنيت په راتلو سره يې د سياسي - اقتصادي اړيکو پراختيا ته لېوالتيا زياته شوې ده. دغه هېواد پر نړيوالو ستيجونو د افغانستان اسلامي امارت سره د تعامل خبره کړې او دا يې په ډاګه کړې، چې يو باثباته او اقتصادي افغانستان د سيمې او نړۍ په ګټه دی.

په همدې موخه د دواړو هېوادونو لوړرتبه استازو د خپلو سياسي او په ځانګړې ډول اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراخولو په موخه ډېر سفرونه کړي. د دغو پلاوو د سفرونو په پايله کې د پخوا په پرتله په مختلفو برخو کې د اړيکو نوي شبکې رامنځته او په ډېرو برخو کې پرمختګونه شوي دي.

موږ په دغه مقاله کې د اسلامي امارت له راتګ وروسته د دواړو هېوادونو پر سياسي او اقتصادي اړيکو لنډې خبرې کوو.

## د کابل – تاشکند سياسي اړيکې

په ۱۹۹۱ ميلادي کال د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته ازبيکستان ازادي واخيسته او افغانستان له لومړنيو هېوادونو و، چې د ازبيکستان خپلواکي يې په رسميت وپېژنده. د دغه هېواد له خپلواکۍ اخيستو يو کال وروسته افغانستان په رسمي ډول په تاشکند کې خپل سفارت پرانيست او له ازبيکستان سره يې د دوه اړخيزو اړيکو پراختيا ته لېوالتيا ونښوده. له دې پرمختګونو سره سم دغه هېواد په رسمي ډول په کابل کې خپل سفارت پرانيست او د ترانزيټ، کرنې، برېښنا، ترانسپورټ او يوشمېر نورو برخو کې له افغانستان سره ګډې همکاريو ته راوړاندې شو. دغه هېواد د افغانستان په بيارغونه او د لويو پروژو په پيل کې ونډه واخيسته، چې ښه بېلګه يې د ترمز – حيرتان – مزارشريف د اوسپنې پټلۍ شبکې پيل دی.

د اسلامي امارت د راتګ په لومړيو ورځو کې ازبيکستان هم د نورو هېوادونو په څېر په کابل کې خپل ډيپلوماتيک فعاليت موقتاً درولی و او اندېښنه يې دا وه، چې اسلامي امارت به د ګاونډيو، سيمې او نړۍ پر وړاندې کوم ډول بهرني سياست غوره کوي. خو د اسلامي امارت مسوولينو او وياندويانو په هماغه لومړيو کې په ډېر واضح ډول ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سياست په غوره کولو سره له ټولو هېوادونو سره ښې او مثبتې اړيکې غواړي او هېچا ته اجازه نه ورکوي، چې د افغانستان له خاورې د بل چا پر ضد کار واخلي.

د اسلامي امارت له لوري د خپل بهرني سياست په ډاګه کولو سره د نورو هېوادونو په ګډون د ازبيکستان ډېرې اندېښنې له منځه لاړې او د افغانستان په چارو کې د نه لاسوهنې سياست په غوره کولو سره دوه اړخيز تعامل ته را وړاندې شو. دغه هېواد په کابل کې بېرته خپل سفارت پرانيست، په مزارشريف کې يې کونسلګرۍ فعاليت پيل کړ او پر دې سربېره يې په تاشکند کې د افغانستان سفارت اسلامي امارت ته تسليم او د اسلامي امارت ډيپلوماتان يې هم ومنل.

له هغه را وروسته د دواړو هېوادونو له لوري په مختلفو برخو کې د اړيکو پراخولو، موجوده ستونزو له منځه وړلو او ګډو سياسي او اقتصادي همکاريو په موخه لوړ پوړو پلاوو سفرونه کړي، چې په پايله کې يې په بېلابېلو برخو کې

پرمختګونه رامنځته او اوسمهال د کابل او تاشکند سياسي اړيکې تر بل هر وخت په ښه موقف کې دي.

## د کابل – تاشکند سوداګريزې اړيکې

په افغانستان کې د اسلامي امارت په بيا حاکمېدو او په ټول هېواد کې د سرتاسري امنيت په تأمين سره د کابل او تاشکند ترمنځ امنيتي فضاء له بشپړ اطمينان څخه برخمنه ده. امنيت د دواړو ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د سياسي او په ځانګړې توګه د اقتصادي اړيکو د رغولو او پراخولو لپاره تر ټولو لومړی او اساسي شرط بلل کېږي. د امنيت په شتون کې دوه هېوادونه پرته له کومې انديښنې له يو بل سره نږدې کېدلی شي او په هره برخه کې چې وغواړي، اړين سهولتونه برابروي.

له نېکه‌مرغه کابل او تاشکند اوسمهال له دغه فرصت څخه د ښې استفادې په حال کې دي، چې د خپلو سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پراخولو او په بېلابېلو برخو کې د ګډو همکاريو په موخه د دواړو هېوادونو استازو يوازې په تېر ۱۴۰۲ لمريز کال کې تر شلو زيات سفرونه کړي دي.

د دغو سفرونو په پايله کې د ۱۴۰۲ لمريز کال پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ارزښت شاوخوا ۲۸۱ ميليون ډالرو ته رسېدلی، چې د پخوا په پرتله د پام وړ زياتوالی ښيي او ټاکل شوې چې تر راتلونکي ۲۰۲۵ ميلادي کال پورې دغه کچه يو ميليارد او ۵۰۰ ميليون ډالرو ته ورسېږي .

د امنيت په تأمين او د دواړو هېوادونو د ګډو همکاريو په پايله کې اوسمهال افغانستان د نفت، ګازو او برېښنا په برخه کې خپلې ډېرې اړتياووې له ازبکستان څخه پوره کوي. ازبکستان چې د انرژۍ د توليد له پلوه د مرکزي اسيا يو مهم هېواد دی، په کم وخت، لږ لګښت او خوندي ډول افغانستان ته د پخوا په پرتله ډېر صادرات کوي، چې دې چارې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پر زياتوالي مثبت اغېز کړی دی.

ازبکستان د ترمذ – حيرتان – مزارشريف اوسپنې پټلۍ له لارې افغانستان ته غنم، اوړه، غوړي، برېښنايي وسايل، کرنيز ماشين آلات، ساختماني وسايل او يوشمېر نور توکي صادروي. له دې سره سره چې افغانستان د ازبکستان لپاره يو ښه مصرفي مارکېټ دی، برعکس بيا ازبکستان د افغانستان د وچو او تازه مېوو او همدا راز د زعفرانو، افغاني غاليو او بېلابېلو افغاني محصولاتو لپاره د بازارموندنې او له دې لارې نړۍ ته د خپلو محصولاتي توکو رسولو يوه ښه لار هم بلل کېږي.


د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزيټ کچه د پخوا په پرتله زياته شوې. افغانستان خپل ډېری سوداګريز توکي د ازبکستان له لارې د روسيې او ترکمنستان بازارونو ته رسوي، چې هلته د روسي او ترکمن سوداګرو له لوري ترې ښه هرکلی شوی دی.

د دواړو هېوادونو له لوري د ډيپلوماتيک ماموريت پيل دې ته لار هواره کړې، چې د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخيزې سوداګرۍ د زياتولو لپاره باور رامنځته او عملاً په څينو برخو کې کار پيل شي. په همدې موخه څو ورځې وړاندې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې د افغاني محصولاتو څلور ورځنۍ نندارتون پرانيستل شو. دغه نندارتون ته لوړرتبه امارتي پلاوی او ۲۵۰ سوداګر په رسمي ډول غوښتل شوي وو، چې د دواړو هېوادونو د خصوصي سکتور ترمنځ په‌کې په بېلابېلو برخو کې د ۱۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت تړونونه لاسليک شول .

د همدغه نندارتون پر مهال د دواړو هېوادونو له لوري پرېکړه وشوه، چې سوداګرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو او د سوداګرۍ په برخه کې شته ستونزو ته د حل‌لارو موندلو په موخه به د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداګرۍ ګډه خونه رامنځته کېږي.

افغانستان د نړۍ په کچه د کانونو له پلوه يو بډايه هېواد دی، چې د اسلامي امارت له لوري پانګوالو ته د پانګونې اسانه شرايطو په رامنځته کېدو سره ازبيک پانګوال لېواله دي څو دلته د سيمنټو توليد، مسو، اوسپنې او ګازو د استخراج او پروسس په برخه کې پانګونه وکړي.

ازبکستان په ډېرې لېوالتيا سره غواړي چې د افغانستان په اوسپنې پټلۍ شبکه کې پانګونه وکړي. دغه هېواد د نايب آباد سټېشن پر پراختيا سربېره غواړي چې له مزارشريف تر هرات او له هرات تر کندهاره د اوسپنې پټلۍ په نوې شبکه کې پانګونه وکړي، چې د اسلامي امارت له لوري د بشپړې






ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته‌نامه آبـــادی


همکارۍ ډاډ ورکړل شـــوی دی. دا چاره به د افغانستان د ترانسپورټ ســـکتور له معیاري کېدو سره ډېره مرسته وکړي او نور هېوادونه به زړه ښه کړي، چې د ترانسپورټ سکتور د دغه شـــبکې په موجودیت کې د افغانستان له خاورې ترانزیټ ترسره کړي. همدا راز به افغانســـتان د دغه شـــبکې له لارې خپل توکي مرکزي او جنوبي اسیا هېوادونو ته ورسوي. په دغه پانګونې سره به افغانستان د سیمه‌ییز ثبات په برخه کې خپل موقف لا پیاوړی او د سیمې اقتصادي توجه به راجلب کړي.

د ســـوداګریز حجم زیاتېـــدو په موخه ازبیکســـتان پر یوشمېر افغاني توکو لګول شـــوې مالیې معاف او کمې کـــړې دي او دواړه هېوادونه لېوالتیا لري، چې په نږدې راتلونکـــي کـــې د حیرتان بندر کاري وخت ۲۴ ســـاعته کړي. دا چاره به د ســـوداګرو ډېرې ســـتونزې حل او د توکو د خرابېدو مخنیوی به وشي.

ازبیکســـتان غواړي له سرخان دریا څخه تر پلخمري او له هغه ځایه تر کابله په خپل لګښت د برېښنا نوی مزی وغځوي او د همدې پروژې د عملي پیل او ښـــه تطبیق په موخه د دغـــه هېواد لومړي وزیر ویلي، چې په نږدې راتلونکي کې به افغانستان ته سفر وکړي.

افغانستان ته د ازبیکســـتان د لومړي وزیر راتګ د دې ښکارندویي کوي، چې دغه هېواد نور د افغانستان په اړه کومه اندېښنه نه لري او جنوبي اسیا هېوادونو ته د خپلو صادراتو رســـولو په هدف افغانســـتان د یو ترانزیټي پُل رول لوبـــوي. برعکس بیا افغانســـتان هم کولی شي د ازبیکســـتان لـــه لارې ځان لـــه چین او روســـیې سره ونښلوي.

## پایله

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو او په افغانستان کې د بشپړ امنیت په راتلو سره د کابل او تاشکند سیاسي – اقتصادي تعامل زیات شوی او له شک پرته دې چارې د دواړو هېوادونو پر سوداګرۍ، ترانزیټ او اقتصاد مثبت اغېز کړی دی. له ازبیکستان سره د سوداګرۍ کچې په زیاتېدو افغانستان توانېدلی دی چې د خپلې اړتیا وړ ډېری توکي په ارزانه بیه او ښه کیفیت له دغه هېواد څخه وارد کړي، چې دې چارې د عامو هېوادوالو ژوند ته ګټه رسولې ده.

له تاشکند سره د کابل د سیاسي – اقتصادي تعامل په پراخېدو سره د سیمې بازارونو ته د افغان سوداګرو لاسرسی اسانه او د ترانزیټ په برخه کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي. اوسمهال افغان سوداګر د ازبیکستان له خاورې په استفادې خپل توکي د چین، روسیې او ترکمنستان بازارونو ته انتقالولی شي، چې دې چارې د افغانستان د سوداګرۍ شبکه پراخه کړې ده.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د امنیتي – سیاسي باور په رامنځته کېدو سره د سوداګریز حجم زیاتوالي ته لېوالتیا ښودل شوې او پر هغه سربېره په مختلفو برخو کې د ګډ کار زمینه هم برابره شوې، چې یو یې هم د افغان ځوانانو روزنه ده.

دې ټولو ته په کتو سره ویلی شو چې اوسمهال د افغانستان او ازبیکستان سیاسي او اقتصادي اړیکې په یوه ښه حالت کې دي او دواړه هېوادونه د اقتصادي شریکانو په توګه له موجودو فرصتونو ښه استفاده کوي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۱,۱۰ | ؋۷۱,۱۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٤٥ | ؋۲٤٦ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۲۹ | ؋۱,۲۹ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷٦,۹٦ | ؋۷۷,۰۱ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۸۱ | ؋۰,۸۱ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۵۲ | ؋۸۵۲ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۹۱,۰۷ | ؋۹۱,۱٤ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۹٥ | ؋۱۸,۹۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۳٦ | ؋۱۹,۳۷ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۷۸ | ؋۹,۷۹ |

